# د قېدي خطونه

لیک: یونس جان    ترجمه : مشتاق مجروح یوسفزے

ډسټرکټ جېل ايبټ اباد
19اګست 1944

کاش چې دا خطونه ما بهر لیږلے شوې او د دې جواب راکولے شو چې د اثر پته ئې راته لګېدے. د دې یو اړخیزي کار هيڅ مزه نشته. مثلاً د پانسی والو یا پاګلانو حال ما ولیکلو خو د دې اثر څۀ وشو؟ دا وشو چې زما په معلوماتو کښې اضافه وشوه. بهر خو مونږ قاتلان، غلۀ او نور جرمونه کونکي سزاوار ګرځوو او بغېر د څۀ وجې د هغوي نه نفرت کوو. د هیڅا وس نۀ رسي چې د هغوي غرضونو سره همدردي وکړي یا د هغوي نظریه مخې ته کېږدي. خو دلته د دې مسئلې ژورو ته چې بنده لاړ شي نو اصلیت ښکاره شي او د تصویر دوېم مخ هم ووینې. د دې خلقو قصې اوربدل غواړي، د هغې نه د معاملې دوېم اړخ څرګند ېږي. بعضې وختونو کښې د دوېم فریق یا سوسائټي کوتاهي هم مخې ته راشي. ځکه چې ملزم اخر زمونږ د ماحول عکاسي کونکے وي او مونږ د هغۀ په ورانولو او سمولو کښې پوره برخه لرو.

په دې سوال د ډېرې مودې نه بحث کېږي او اوس خو دلته تر دې پورې وئیلے شي چې د جرمونو د مخ نیوي کولو چې کومې ذریعې دي په هغې کښې یوه دا هم پکار ده چې ججان او مجسټرېټان دې هم د څۀ مودې دپاره قبدولے شي چې ملزمانو سره پاتې شي او د هغوي د ذهنیت او د فرد جرم ټول اسباب معلوم کړي. دا ډېر ښۀ تجویز دے د نورو خبرو نه علاوه کېدے شي چې دا فرعونان د درد نه خبر شي او د انسانیت سبق زده کړي. صرف مجسټرېټان نه بلکې د دوي نور ورونه هم. یو خو به د دوي غرور کم شي او تر څۀ حده به ورته د خپلو شرارتونو سزا ملاو شي. باقي فائدې خو چرته تلے نۀ دي. بهر حال دا مسئله غور و فکر غواړي او زمونږ د قانون دانانو دوستانو دپاره یوه ښکلې موقعه ده چې په دې لړ کښې څۀ سوچ وکړي چې بیا په وخت څۀ قدم وچت کړے شي. هغوي یا خو زمونږ د جدوجهد نه لرې اوسي یا بیا د څۀ غرض دپاره مونږ سره شاملېږي. خو کۀ په دې سوالونو سوچ وشو نو مونږ به د داسې ډېرو غلطو نه بچ شو ګني نو دا ټول مصیبت به زمونږ برخه وي.

یوه ورځ سپرنټنډنټ خپل دفتر ته وغوښتم، هغۀ لا څۀ وئیلي نۀ وو چې د هغۀ نه شا پله کړکی کښې مې یو موټر ولیدو نو سمدستي د کرسی نه پاڅېدم او چغې مې کړې موټر دے، موټر دے. ډاکټر ګپتا حېران شو چې دا څۀ وشو؟ هغۀ ته زما د ولولو او احساس څۀ پته وه؟ یو کال وشو چې په دې موټر کښې د هري پورې نه راغلے وم. بیا د غاښونو د علاج دپاره پکښې بهر تلے وم. دغه وخت ما ته تېر شوي کال کښې د موټرو خیال راغے. اېم جي او د ټولو نه ښۀ دلزلي د زړو ځلو نه مې زیات چلولے وۀ. دوستانو سره مې سېلونه کړي وو او اوږدۀ اوږدۀ سفرونه مې پکښې کړي وو. او اوس

ترې دومره لرې وم نو چې ما دا چغې نۀ وهلې نو څۀ به مې کول. وائي چې بنده جېل ته راشي نو سترګې ئې د ډېرو مشاهدو نه نا اشنا شي او کۀ قېد اوږد شي نو بيا تکليف نور هم سېوا شي او ورسره بې وسي هم. جواهر لعل جي په خپل سوانح حيات کښې ليکلي دي چې په جېل کښې د سپو او ښځو اوازونه نۀ شي اورېدے. کاش چې هغه ايبټ آباد ته راغلے وې دلته خو د ښځو اوازونه نه بلکې يو شور زوږ وي چې زۀ ترې پوزې له راغلے يم.

وړوکے جېل دے له دې وجې نه هر څۀ يو بل ته نـزدې نـزدې دي. د ښـځو د اوسـېدو ځـائے زمـا د کوټګۍ شاته دے هر وخت ئې شور زوږ جوړ کړے وي. څو ځله مې ورته سوال جواب وکړل خو د هيڅا نۀ مني. حالانکې په جېل کښې په اوچت اواز خبرې کول منع دي. کۀ دا حرکت چرته سړي کړے وې نو خدائے خبر چې څۀ حال به ئې وۀ. د دوي جمعداره ډېره نرمه ښځه ده په خاموشۍ خپل وخت تېروي. هغه ډېره اسماعيل خان واله خو بلا وه. چې هغه به ئې وليده نو ساه به ترې وتله پوره نادر شاهي توپه وه. د هيڅا مجال نۀ وۀ چې د هغې مخکښې کش وکړي. اورېدلي مې وو چې هغې به شرارتي ښځې راپرزولې، پوزې به ئې ورله تاوهلې او د وېښتو نه به ئې راښکلې او چې کله به ډېره غصه شوه نو د پاڅه به پرې کښېناسته او د خپل سر نه به ئې سپړې راويستلې او په هغوي به ئې وراچولې. کۀ چا به څۀ مزاحمت وکړو نو بيا به پرې د سره شوه. او کۀ چا به څۀ ونۀ وې نـو ورتـه بـه ئې ارام سره د قېد تېرولو ووې او بهر به راووتله او دروازې سره به کښېناسته او تسبيح بـه ئې اړول شـروع کـړل. شـايد هغـه چـا ليدلې وه او دا د اردو متل ئې کړے وۀ:

چې بلي سو چوهے کها کر حج کو ګئي.

تېرو يو څو مياشتو کښې راسره ډېر خلق ملاؤ شو. د پاړه چنار نه څۀ قبائل د قتل په سلسله کښې د ضامن په حېثيت دلته رالېږلي شوي وو. دا د پوليټيکل ډيپارټمنټ عامه کارروائي وي او هغوي د دې قسمه جګړو نه فائده وچتوي او خپل کارونه پرې وباسي. دا ټول د خپلو خپلو علاقو معزز خلق وو او نو ډېر په ښه طريقه به ملاوېدل. کرمه ايجنسۍ کښې زياتره شيعه دي او پوليټيکل ايجنټ دوي د نورو خلقو نه بېل ساتي. اکثر د دوي مذهبي جذبات راپاروي او د سنيانو سره ئې جنګوي او دوي اکثر د هغه ځائے سنيانو سره په جنګ وي. مونږ خو اخوا تلے نۀ شو ځکه نو دا خلق زمونږ د سياسي سرګرمو نه بېخي ناخبره وو. ولې اوس به راسره په جېل کښې هر وخت ملاوېدل او خبرې اترې به ئې راسره کولې. ډېر زر زمونږ خپلو کښې يو تعلق پېدا شو. دوي په وړومبي ځل د يو سني سره ډوډۍ وخوړله او د دې په اورېدو حېران هم شو چې په اسلاميه کالج کښې زما د کمرې ملګرے آغا شجاعت علي شاه وۀ چې د يوې ډېرې عزتمندې شيعه کورنۍ سره ئې تعلق لرلو. هغه اوس هم ماته لکه د خپل ورور ګران دے. هغوي د دې خاندان نوم اورېدلے وۀ ډېر زيات متاثره شو او وې وئيل اوس به مونږ دا فرق نۀ کوو. بلکې تر دې ئې راسره وعده وکړه چې نور خلق به هم پوهوو چې دا شيعه سني يو بې معنې سوال دے او د دې فائده حاکمانو ته ووځي. دوي راته دا هم ووې چې څنګه پوليټيکل ايجنټ مونږ دوکه کوي او بيا مو څۀ رنګه قابو کوي. دوي څۀ دپاسه مياشت دلته پاتې شو بيا لاړل. خو زۀ د دوي هغه قصې اوس هم يادوم او سوچ کوم چې انګرېزانو مونږ له څنګه څنګه مصيبتونه پېدا کړي دي او معلومه نۀ ده چې تر کومې به مونږ د دوي په جال کښې ګېر يو.

د قتل په الزام کښې ګېر يو حوالاتي ډېر د مزې سړے دے. دۀ راسره په وړومبۍ ورځ دوستي جوړه کړه او راته ئې ووې چې سلطان بوني زما خپلوان دے. دۀ ته زما د هغۀ او منير سره د تعلقاتو پته وه نو پېژندګلو کښې وخت ونۀ لګېدو. دې په بي کلاس کښې وۀ د وارډرانو نه به په غلا ماله راتلو او د ټولې ضلعې د خبرونو نه به ئې خبرولم. دۀ راته په څو ورځې کښې د هزارې دومره معلومات راکړل چې اوس به ماته تر مودو مودو د نورو معلوماتو ضرورت نۀ وي. په کومه ورځ چې به د چا سيشن کښې پېشي وه نو دۀ به مونځونو له زور ورکړو. اخر يوه ورځ د دۀ نمبر هم راغے او عمري قېد شو او پېښور ته ولېږلے شو. خو د تلو په وخت ئې ووې چې زۀ به بري شم او هم هغسې وشو. د لاهور نه ئې وکيل راوغوښتو او په اپيل کښې رها شو. د دۀ نوکر بهر د يو قېدي سره ملاو شو او يو خط ئې په صابون کښې بند کړے ورکړو او يقين ئې ورکړو چې هغه به د جېل دوستانه چرې هم نۀ هېروي.

د څۀ ورځو دپاره د يو قتل په شک کښې څو سټوډنټان هم دلته راغلي وو. ښۀ د مړې کورنۍ هلکان وو. په جېل کښې به مست مست ګرځېدل او دا خبره د جېل د جمعدار خوښه نۀ شوه او وې رټل. د هغې نه پس ئې په قلاره خپل وخت تېرول شروع کړل. کله کله به زما چکۍ ته راتلل چې يوه پيالۍ چائې وڅښي. د ښار خبرونه به ئې راته بيان کړي او د کالج په دوو درېو استاذانو پسې به ئې الا بلا وغرول. دې مجلسونو زما د تنهايۍ ژوند ښۀ کړے وۀ.

تېره ورځ زما يو ډېر نزدې خپلوان غلام اسحاق ناڅاپه راغے، لږ ساعت ودرېدو او ماته ئې په غور کتل. خو لکه د بُت ولاړ وۀ غږ ئې نۀ کولو. ما ورته د ناستې ووې خو هغه هم دغسې ولاړ په تماشه وۀ او بيا ئې السلام علېکم ووې او لاړو. وروستو راته ډپټي جېلر چې دۀ سره راغلے وۀ ووې چې غلام اسحاق د يو ملزم بيان اخستو له جېل ته راغلے وۀ او تا سره ئې د ملاقات خواهش ښکاره کړو. خو چې تۀ ئې په دې کوټکۍ کښې بند ولېدې او ستا حالت ئې وکتو نو خپل جذبات ئې قابو نۀ کړے شو او تلل ئې غوره وګڼل. د دې نه اګاهو يو ځل هغه ماسره د نوښار په سټېشن ملاو شوے وۀ او هغه وخت زۀ په هتکړو او بېړو کښې وم. دا وخت زما اوږده ږيره وه، د جېل په کپړو کښې وم او بيمار هم وم. دا يو ښۀ منظر نۀ وۀ. خاصکر د يو فرشته صفت انسان دپاره چې د هغۀ زۀ هر څومره تعريف وکړم نو به کم وي. د هغۀ د تګ نه پس ماته د کالج ورځې شپې رايادې شوې او د دوستانو تصويرونه مې رامخې ته شو. کله به راته سعدالله کله فريد او د هغۀ د ګټې واله هغه موټر، کله خان بادشاه او د هغۀ ټېپې، کله عابد او د هغۀ تماچه او کله صاحبزاده ادريس، کله د مطلب صاحب خبرې او د شفيع صاحب کباب رايادېدل.

نن سحر سپرنټنډنټ خبر راکړو چې ستا بدلي هري پور ته شوې ده او يو څو ګېنټو کښې به تۀ هلته ځې. دوي راته د خوراک په حقله ډېر تاکيد وکړو او د دوايانو نسخه ئې راکړه خو ډېر زور ئې په پرهيز وکړو. دوي راسره دا وعده هم وکړه چې زۀ به هري پور ته ملاقات له درځم. دا بدلي لږه په شرافت وه. کتابونه مې راغونډ کړل او دفتر ته راغلم نو معلومه شوه چې د هري پور جېل لارې د مرمت دپاره اېبټ اباد ته راغلې وه خو لا ټيک شوې نۀ ده. دغسې د دې شرافت پته هم راته ولګېده. دا څلور ګېنټې مهلت د يو مستري د ناراستۍ په وجه په لاس راغے.